# شتمني
SHTAMANI

تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**له امیر سره د بیعت اهمیت**

**له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:** څوک چې د خپل واکمن (امیر) په کوم کار ناخوښي ووینې، نو صبر دې وکړي؛ ځکه هر څوک چې د مسلمانانو له واکمنی څخه د یوې وجبې (یوه لویشت) په اندازه هم ووځي، او په همدې حالت کې مړ شي، نو د جاهلیت د زماني په شان مرگ به یې وي.[ صحیح بخاري(۷۰۵۳)]

**اهمیت بیعت با امیر**

**از عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما روایت شده که رسول الله ﷺ فرمود:** کسیکه از یک عمل حاکم (امیر) خویش راضی نباشد صبر نماید، چون هر کسیکه از حکمرانی مسلمانان به اندازه یک وجب (بلیست) هم خارج شود و در این حالت فوت شود مرگش مثل زمان جاهلیت خواهد بود.

[ صحیح بخاري(۷۰۵۳)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


صفر المظفر ۲۵ -۱۴۴۸ ل س | د زمرې ۱۸ -۱۴۰۵ل ل | د اگسټ ۹ -۲۰۲۶ز | شپږم کال | ۱۶۹ گڼه | ٤ مخیزه | ۱


## د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د فرمانونو لړۍ

### د واده په اړوند امورو کې د رعایت وړ ټکي

**لومړۍ ماده:**

(۴) کـه د بالغې نجلۍ ولي، یـاده نجلۍ د هغې لـه خوښې پرتـه پـه نـکاح ورکړه، هغه کـولای شي محاکمـو او اړونـدو ادارو تـه شـکایت او عریضـه وکـړي، پـه دې صـورت کـې د عالیقـدر امیرالمؤمنیـن حفظـه اللـه تعالـی د (۲۷/۴/۱۴۴۳ هــ.ق) نېټـې د (۸۳ج ۱) گڼـه د ښـځو د حقونـو فرمـان رعایـت او ضروري دی.

(۵) ښــځه، د اســلام لــه نظــره د نــکاح کولــو پــه موضــوع کــې د نارینــه پــه څېــر خپلواکــه ده، پــه هیــڅ صــورت د چــا مــال نــه گرځــي او د خپــل مېــړه لــه مړینــې او یــا طــلاق ورســته، د دې لــه خوښــې او مشــورې پرتــه یــې خسرگنــۍ او یــا هــم پلارگنــۍ پــه زوره بــل چاتــه پــه نــکاح نــه شي ورکـولای، پـه خپلـه خوښـه چیرتـه او چـا سره چـې وغــواړي، لــه شرعــې اوصولــو سره ســم نــکاح کــولای شي.

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

## سرمقاله

### افغانستان؛ چهارراه طلایی آسیا در مسیر همگرایی

نگاهی به تحولات اقتصادی و ترانزیتی پیرامون افغانستان، نشان‌دهندهٔ یک واقعیت غیرقابل انکار است که این سرزمین نه یک مانع، بلکه حلقهٔ گمشدهٔ اتصال میان آسیای مرکزی، جنوب آسیا و غرب آسیا است. همگرایی منطقه‌ایی از مسیر افغانستان می‌گذرد و این فرصتی است که سال‌ها در انتظار تحقق آن بودیم. افغانستان، «حلقه اتصال» میان آسیای مرکزی و جنوبی بوده و زمان آن رسیده که این سرزمین به جایگاه واقعی خود به عنوان «قلب آسیا» بازگردد. پروژهٔ کلان راه‌آهن ترانس‌افغان با توافق برای آغاز مطالعات فنی آن، در مسیر اجرایی شدن قرار گرفته است. این پروژه با ظرفیت جابه‌جایی سالانه (۲۰) میلیون تن کالا، افغانستان را به یکی از پردرآمدترین کریدورهای ترانزیتی جهان تبدیل خواهد کرد و پیوند ناگسستنی میان آسیای مرکزی و بندرهای جنوبی ایجاد می‌نماید. فرصت‌های بی نظیری پیش روی افغانستان است؛ از ترانزیت گرفته تا انرژی و تجارت. اما بهره گیری از این فرصت‌ها، نیازمند هماهنگی بیشتر میان نهادهای مرتبط و ایجاد سهولت‌های لازم برای سرمایه‌گذاری است. خبر خوب این است که روندها نشان می‌دهد که هم کشورهای منطقه و هم مسئولان افغانستان به این نتیجه رسیده اند که همکاری، برد- برد است. ازبکستان برای دسترسی به آب‌های گرم به افغانستان نیاز دارد، تاجیکستان برای ترانزیت کالا به مسیر افغانستان چشم دوخته، ایران برای اتصال به آسیای مرکزی از هرات عبور می‌کند و افغانستان نیز برای توسعهٔ اقتصاد خود به همهٔ این همسایگان نیازمند است. این همان همگرایی متقابل است که می‌تواند منطقه را متحول کند. امارت اسلامی افغانستان با اتخاذ رویکرد «اقتصاد محوری» در سیاست خارجی، گام های مؤثری برای جلب اعتماد همسایگان و ترسیم افق های جدید همکاری برداشته است که میتوان بر برگزاری نشست های مشورتی و تأکید برنقش افغانستان به عنوان پل اتصال میان آسیای مرکزی و جنوبی، توافق با تاجیکستان و ایران برای ایجاد یک دهلیز جاده‌ای و تمرکز برهرات به عنوان قطب اقتصادی و دروازه طبیعی ترانزیت جهت حلقه اتصال منطقه ای از تاشکند تا بندرعباس یاد نمود. علاوه بر آن از حکومتداری الکترونیکی و اتصال دوایر دولتی از طریق سیستم ها، گسترش خدمات مخابراتی به مناطق دوردست و تلاش برای کاهش بروکراسی با کمک فناوری و هدایت کشور ازیک اقتصاد سنتی به سمت اقتصاد مبتنی بر دانش، عزم امارت اسلامی برای ایجاد زیرساخت همگرایی نشان می دهد. اقتصاد افغانستان در مسیر همگرایی منطقه‌ای، روزهای تعیین کننده‌ای را پشت سر می‌گذارد. از ازبکستان در شمال تا ایران در غرب و تاجیکستان در شرق، همه بر یک نکته اتفاق نظر دارند: افغانستان پل مطمئن اتصال منطقه‌ای است. اگر این هم افزایی با ثبات داخلی، هماهنگی نهادهای دولتی و عزم جدی برای اجرای پروژه‌ها همراه شود، نه تنها اقتصاد افغانستان جان تازه‌ای می‌گیرد، بلکه کل منطقه از مزایای این اتصال بهره مند خواهد شد. آینده از آنِ همگرایی است و افغانستان در مرکز این همگرایی خواهد درخشید.

**بااحترام**

**اداره**

## د ماليې وزیر د ازبکستان د سټنډرړ اداري له رئیس سره ولیدل





د ماليې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند د ازبکستان هېواد د سټنډرړ اداري له رئیس جمعه نظروف اکمل سره د دغه وزارت په مقام کې ولیدل. دواړو لوریو د دوه اړخیزه اقتصادي کمېسیونونو پر بیا فعالولو، په حیرتان بندر کې د مجهز نفتي لابراتوار پر جوړولو، په صادراتي او وارداتي توکو کې د گمرکي اسانتیاوو پر رامنځته کولو، پر دوه اړخیز سوداگریز حجم، د گمرکي سیستمونو پر نښلولو او فعالیت او د نفتي معیارونو پر همغږي کولو او همدارنگه د گمرکونو د عصري کولو او عصري وسایلو د فعالولو په تړاو خبرې وکړې. ښاغلي نظروف اکمل وویل، چې دوی غواړي په حیرتان بندر کې د وارداتي او صادراتي توکو لپاره یو مجهز لابراتوار جوړ کړي او په دغه برخه کې افغان کدرونه هم وروزي. د هېواد د ماليې وزیر د ازبکستان پلاوي ته د ښه راغلاست ترځنگ وویل، چې موږ هر وخت له دوستو گاونډیو هېوادونو سره د اقتصادي موضوعاتو په برخه کې د دغسې غونډو او خبرو اترو لپاره چمتو یو او غواړو، چې خپلو اقتصادي او سوداگریزو اړیکو او همکاریو ته لا پراختیا ورکړو.

## د گمرکونو او عوایدو معینیت د همغږۍ دوهمه ناسته وشوه



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ، د گمرکونو او عوایدو معینیت د (۱۴۴۸هـ.ق) کال د همغږۍ دوهمه ناسته د اړوندو ریاستونو د رئیسانو او مسئولینو په گډون جوړه شوه. د ناستې په پیل کې د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید د تېرو پرېکړو پر اغېزمن تطبیق، د ریاستونو ترمنځ پر لا پیاوړي همغږۍ، د مراجعینو لپاره د لا زیاتو اسانتیاوو پر رامنځته کولو او د چارو پر وخت ترسره کولو ټینگار وکړ. نوموړي همدا راز مسئولینو ته لارښوونه وکړه، چې د تېرو ناستو پرېکړې په جدي ډول تعقیب او د تطبیق پایلې یې په راتلونکو ناستو کې شریکې کړي. وروسته د تېرې ناستې پر مهال د ټاکل شویو پلاوو له لوري د سپارل شویو دندو او اجراآتو راپورونه وړاندې شول، چې د هر راپور له ارزونې وروسته د چارو د لا ښه تنظیم، د شته ستونزو د حل او د پرېکړو د عملي کېدو په موخه لازمې لارښوونې او تصمیمونه ونیول شول. د یادونې وړ ده، چې د گمرکونو او عوایدو معینیت د همغږۍ ورته ناستې د تېرو پرېکړو د تطبیق د ارزونې، د ریاستونو ترمنځ د لا غوره همغږۍ او د اداري چارو د اغېزمنتیا په موخه په منظم ډول ترسره کېږي.

## د ماليې وزارت د عوایدو او گمرکونو نوی معین معرفي شو



د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د حکم پر بنسټ حاجي نعمت الله حسن، چې د ماليې وزارت د عوایدو او گمرکونو د معین په توگه ټاکل شوی وو، نن د یو لړ مراسمو په ترځ کې د دغه وزارت کارکوونکو او مسئولینو ته ور معرفي شو. په دغو مراسمو کې د ماليې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند، اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د چارو ادارې عمومي ریاست د پالیسیو چارو معاون حاجي نذیر احمد ناصر، رئیسانو او نورو مسئولینو گډون کړی وو. د چارو اداري عمومي ریاست د پالیسیو چارو معاون د نوي معین د گومارنې په تړاو د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) حکم قرائت کړ او د نوي دندې ښه ترسره کولو هیله یې ورته وکړه. د ماليې وزیر وویل، چې په ریښتیا سره دغه گومارنه به د خیر او چارو د برکت سبب شي. نوموړي نوي معین ته د ور سپارل شویو چارو د ښه ترسره کېدو ترځنگ، په چارو کې د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ. د عواید او گمرکونو نوي معین د افغانستان اسلامي امارت او ماليې وزارت له باور څخه مننه وکړه او ویې ویل، چې تغییر او تبدیل په نظام کې یو اصل دی او موخه یې خلکو او نظام ته خدمت کول دي. نوموړي په ریښتینولۍ سره د چارو ترسره کولو ډاډ ورکړ او له مسئولینو څخه د همکارۍ او چارو ښه ترسره کولو غوښتونکی شو. د یادونې وړ ده، چې د عوایدو او گمرکونو نوی معین تردې وړاندې د ښاروالیو د چارو د تنظیم د مسلکي او فني معاون په توگه دنده ترسره کوله.



د فزیکي عوایدو د بانکي کولو په تړاو ناسته وشوه

م ۲



د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ هیئت نهمه ناسته وشوه

م ۲



نشست آنلاین با مسئولین مستوفیت‌ها برگزار گردید

م ۲



د ماليې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت ۲۲ شکایتونو ته رسېدنه کړې

م ۲



د افغانستان د کورنیو محصولاتو پېژندنه، بازارموندنه او ستونزې

م ۳




د اداري معینیت د رهبرۍ ناسته کې پر مهمو موضوعاتو خبرې وشوې

م ٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه



## د مالیاتي شخړو د حل بورډ د چنګاښ په میاشت کې ۱۱ قضیو ته رسېدنه کړې ده



د مالیې وزارت د مالیاتي شخړو د حل بورډ د (۱۴۰۵) هـ.ل کال په چنګاښ (سرطان) میاشت کې (۱۱) قضیو ته رسېدنه کړې ده، چې اکثریت معترضو مالیه ورکوونکو د بورډ پر تصامیمو قناعت ښودلی او حکم شوي مبالغ یې بیت المال ته تحویل کړي دي.
د مالیې وزارت د مالیاتي شخړو د حل بورډ، چې له پنځو متخصصو غړو څخه جوړ دی، د مالیاتي شخړو د حل او د مالیاتي عدالت رامنځته کولو، د مالیاتي اطاعت پذیرۍ سطحې لوړولو، د مالیاتي قوانینو له ښه او دقیق پلي کېدو څخه ډاډ ترلاسه کولو، د مالیه ورکوونکو او مالیاتي ادارو ترمنځ د باور رامنځته کولو، په خصوصي سیکټور کې د پانګونې د جذب ملاتړ او د مالیاتو په ورکولو کې د مالیه ورکوونکو رضایت ترلاسه کولو لپاره اغېزمن او ګټور فعالیتونه ترسره کوي.
د یادونې وړ ده، چې د مالیاتي شخړو مسلکي او تخنیکي حل دوه اړخیزې پایلې لري، یعني له یوې خوا، په ملي بودیجه او د مالیې وزارت د محاسباتي سیستم (د نقدینګۍ مدیریت) باندې مثبت اغېزې لري، پاتې عواید ترلاسه کېږي او له بلې خوا، د مالیه ورکوونکو او مالیاتي ادارو ترمنځ د باور رامنځته کولو سره د خصوصي سیکټور رضایت تر لاسه کېږي.

# د فزیکي عوایدو د بانکي کولو په تړاو ناسته وشوه



د مالیې وزارت او د افغانستان بانک د ګډ وړاندیز او د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د حکم پر بنسټ او د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفر محمد سحر په مشرۍ، د خزاینو لوی ریاست، د افغانستان بانک، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت او نورو وزارتونو او امارتي ادارو د عوایدو د استازو په ګډون د فزیکي عوایدو د بانکي کولو په تړاو ناسته د مالیې وزارت په خیبرهال کې وشوه.
د ناستې په پیل کې د عوایدو او خزاینو عمومي ریاستونو د استازو له خوا د یادې موضوع په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د منظور شوي حکم په تړاو کافي وضاحت او معلومات ورکړل شول.
وروسته بیا د غیر مالیاتي عوایدو د رئیس، د افغانستان بانک او د مخابراتو وزارت د استازو له لوري د برېښنایي او بانکي خدمتونو په تړاو اړین معلومات او وضاحتونه وړاندې شول.
د ناستې په لړ کې د ادارو د استازو له خوا په یو شمېر امارتي ادارو کې د بانکي خدماتو د نشتون پر ستونزو او په کابل، ولایتونو او ولسوالیو کې د هغو ساحو د پېژندنې په تړاو هر اړخیز بحث او خبرې اترې وشوې، چې عواید یې اوسمهال په فزیکي بڼه راټولېږي.
په پای کې پرېکړه وشوه، چې د یادو موضوعاتو د لا غوره همغږۍ او پلي کولو په موخه به د ټولو ادارو له استازو څخه یو ګډ کاري ګروپ هم جوړېږي؛ ترڅو اړوندې چارې په احسنه بڼه پرمخ ولاړې شي.

# د عوایدو لوی ریاست د رهبري هیئت نهمه ناسته وشوه

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج مولوي سفرمحمد سحر په مشرۍ د عوایدو د تخنیکي مرستیال، د مستوفیتونو چارو مرستیال او د یو شمېر رئیسانو او آمرینو په ګډون د عوایدو لوی ریاست د (۱۴۰۵) هـ.ل کال د رهبري هیئت نهمه ناسته د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې وشوه.
په پیل کې د عوایدو لوی رئیس د مسئولیتونو پر وخت ترسره کولو باندې ټینګار وکړ او ویې ویل، چې هر مسئول مکلف دی؛ څو خپلې دندې په پوره احساس، دقت او مسئولیت ترسره کړي، چې له کبله یې چارې پر ټاکلي وخت او احسنه توګه مخته ولاړې شي.
د ناستې په جریان کې د رهبري هیئت د اتمې ناستې د پرېکړو د تطبیق راپور وړاندې شو. همدارنګه د روان مالي کال د تېرو پنځو میاشتو د عوایدو د تحلیل او پرمختګ راپور، د مهمو کړنو د ارزونې (KPI) راپور، د مالیې وزارت د مقام د شفاهي پرېکړو د تطبیق او اجراآتو راپور، د سروخونو د مالیاتي معافیت د څرنګوالي موضوع، د پنځو شرکتونو او انفرادي اشخاصو د احصائیې د انتقال موضوع او د عوایدو لوی ریاست د مسلکي کمېټې د (۳۰/۴/۱۴۰۵) نېټې د څلورو پرېکړو په اړه د رهبري هیئت د وروستۍ پرېکړې او توافق نظر په ګډون پر یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو هر اړخیز بحث او د نظرونو تبادله وشوه.



د ناستې په پای کې د مطرح شویو موضوعاتو په اړه لازمې پرېکړې او اړینې سپارښتنې وشوې او غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## نشست آنلاین با مسئولین مستوفیت‌ها برگزار گردید

نشست آنلاین با مسئولین مستوفیت‌ها تحت ریاست الحاج مولوی سفر محمد سحر رئیس عمومی عواید وزارت مالیه و حضور معاون امور مستوفیت‌ها، رؤسا و آمرین مربوط ریاست عمومی عواید برگزار گردید.
در آغاز نشست رئیس عمومی عواید گفت که به منظور تقویت هماهنگی میان مستوفیت‌ها و مرکز و تطبیق مؤثر فیصله‌ها چنین نشست‌های آنلاین به گونه منظم برگزار میگردد. نامبرده افزود؛ که مسئولین باید وظایف خویش را با مسئولیت کامل انجام دهند تا امور بدون تأخیر در زمان تعیین شده اجرا و هرگونه کاستی در روند کاری بر طرف گردد.



رئیس عمومی عواید همچنان به مستوفیان توصیه نمود که به منظور ارتقای ظرفیت کارمندان و تنظیم هرچه بهتر امور کمیته‌های نظارت و هماهنگی را ایجاد نمایند تا با آنعده از کارمندان که در برخی موارد به راهنمایی و همکاری نیاز دارند همکاری‌های لازم صورت گیرد و امور مربوطه آنان به بهترین شکل انجام شود.
در جریان نشست در مورد موضوعات مربوط به اجراآت و نظارت تالارهای عروسی و مهمان‌خانه‌ها، فیصله خاص ریاست عمومی عواید در رابطه به تعیین و نظارت عواید مراکز صحی و ارزیابی دوسیه‌های آن که مکتوب نهایی آن از سوی ریاست خدمات مالیه دهندگان صادر می‌شود و گزارش مقایسوی ربع اول سال‌های مالی (۱۴۰۴) و (۱۴۰۵) هـ.ش و بخش ارائه خدمات ولایتی (KPI) بحث‌های همه جانبه صورت گرفت.
در آخر به سوالات و پیشنهادات اشتراك کنندگان پاسخ ارائه گردید و نشست با دعای خیر اختتام یافت.

## د څار هیئت د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو درېیمه ناسته وکړه


د څار هیئت د اقتصادي وزارتونو او ادارو پر کړنو د (۱۴۴۸) هجري قمري کال درېیمه ناسته د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ او د یادو اړوندو وزارتونو او ادارو د باصلاحیته استازو په ګډون د ګمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې وشوه.
په دې ناسته کې د تېرې ناستې د پرېکړو د عملي کېدو بهیر وارزول شو او همدارنګه د امارتي ادارو د مکتوبونو او اداري سندونو د برېښنایي کېدو، د جوړو شویو نظامونو (سیستمونو) د ارزونې، د کابل نړیوال هوایي ډګر د وارداتي انګړ د موضوع په ګډون د یو شمېر نورو اداري او تخنیکي موضوعاتو په اړه هر اړخیز بحثونه او لازمې پرېکړې ترسره شوې.
همدارنګه، د اړوندو ادارو مسؤلینو ته سپارښتنه وشوه، چې د ټاکل شویو پرېکړو د عملي کېدو بهیر چټک کړي، د ادارو ترمنځ همغږي لا پیاوړې کړي او د ترسره شویو اقداماتو راپورونه د څار هیئت راتلونکو غونډو ته وړاندې کړي.



د ناستې په پای کې د ګډونوالو نظرونه، وړاندیزونه او غوښتنې واورېدل شوې او د اړوندو موضوعاتو د لا ښه تطبیق او اغېزمنتیا لپاره لازمې لارښوونې هم وشوې.

## د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت ۲۲ شکایتونو ته رسېدنه کړې

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی ریاست د شکایتونو اورېدو آمریت د دغه وزارت اړوند ټولو شکایتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډونې او د یو شمېر مسئولینو ناسم چلند ته د رسېدنې مسئولیت په غاړه لري او ترلاسه سویو شکایتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي.
دغه آمریت د روان (۱۴۰۵) کال سرطان (چنګاښ) میاشتې له پیل څخه د دغې میاشتې تر پایه پورې په ټوله کې (۲٦) شکایتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي.
له دې ډلې (۱۵) شکایتونه د وټس اپ له لارې،



(۱۰) شکایتونه په حضوري بڼه او (۱) شکایت د ایمیل له لارې له دغه آمریت سره شریک شوي دي، چې یاد شکایتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې برخو کې ول، چې د دغه آمریت له لوري یې (۲۲) شکایتونو ته رسېدنه شوې، (۳) شکایت تر کار لاندې او (۱) شکایت لااجراء پاتې دی.
د یادونې وړ ده، چې ټول هېوادوال کولای شي، چې د مالیې وزارت د بېلابېلو څانګو په څانګړې توګه د عوایدې سرچینو او د ګومارنې په برخه کې د اصلاحاتو په تړاو خپل شکایتونه، وړاندیزونه او نظریات د برېښنالیك، وټس اپ، ټلیفون، په حضوري بڼه او د شکایتونو د صندوق له لارې له دغه آمریت سره شریک کړي، چې د شکایتونو د اورېدو آمریت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکایتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰
وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦

شتمني SHTAMANI
اوونیزه

# د افغانستان د کورنیو محصولاتو پېژندنه، بازارموندنه او ستونزې

محمد ضمیر ستانکزی
د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست
د همغږۍ مدیر



**د څېړنې پېژندنه:**

افغانستان هغه هېواد دی، چې څلور لسیزې په تپل شویو جګړو کې را ښکېل دی، خو بیا یې هم حوصله نه ده بایللې او تل یې هڅه کړې ده، چې د خپلو محصولاتو پر مټ اوسني اقتصادي کړکېچ ته د خلاصون لاره ومومي. دا د څو لسیزو جګړو اقتصادي بندیزونو، محدودیتونو، نا امنیو او پر بهرنیو تولیداتو تکیې په تېرو کلونو کې دا فرصت نه دی رامنځته کړی، چې کورني تولیداتو ته لکه صنعت، تجارت، زراعت، لاسي صنایع، تازه مېوې او نورو ته لکه څرنګه چې پکار وه پاملرنه وشي.

الحمدلله افغانستان د جغرافیوي جوړښت او طبیعي زېرمو له پلوه یو غني هېواد دی. که چېرته یادو مواردو ته کار وشي دا به د دې سبب وګرځي؛ ترڅو افغانستان له اقتصادي پلوه ځان بساینې ته ورسېږي او په یوه صادراتي هېواد بدل شي.

په افغانستان باندې نړیوالو اقتصادي بندیزونه لګولي، مالي سیستمونه یې پرې محدود کړي او تجارتي اړیکې یې هم تر ډېره ورسره ستونزمنې کړې دي، د افغانستان زیاتره صادرات او واردات د ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران له بندرونو څخه ترسره کېږي. پاکستاني بندرونو ته غځېدلې لارې (تورخم او سپین بولدک) او د ایران د چابهار او بندرعباس بندرونو ته لارې (اسلام قلعه) د هېواد د سوداګرۍ اصلي رګونه بلل کېږي.

دا چې اوسمهال ایران له امریکا او اسرائیلو سره په جګړه کې ښکېل دی او له پاکستان سره د افغانستان اړیکې تر ډېره بریده ترینګلې شوي دي او پاکستاني رژیم څلونه د افغانستان په خاوره تېری کړی، چې له کبله یې سوداګري هم ورسره ټکنۍ شوې ده، نو اوس مهال افغان حکومت ته پکار ده، چې منځنۍ اسیا ته د لار پرانیستلو په برخه کې لکه څنګه چې عملاً لیدل کېږي ځانګړې پاملرنه وکړي. له ازبکستان سره د حیرتان بندر او له تاجیکستان سره شېرخان بندر، چې د خوراکي توکو او نفتي موادو د واردولو لپاره خورا مهم دي په لومړیتوبونو کې ونیسي. د لاجوردو لار او د چابهار کوریډور، چې د افغانستان د سوداګریزو توکو د تنوع او نړۍ ته د نښلولو لپاره کولای شي، چې د ایران او پاکستان لارو یو ښه بدیل و اوسي.

اسلامي امارت ته په کار ده، چې خپلو کورنیو محصولاتو ته پاملرنه وکړي یاد محصولات و پېژندل شي، بازار موندنه ورته وکړي او د ستونزو د حل لپاره یې معقولې لارې چارې و لټوي.

راځئ؛ چې اوس د افغانستان هغه مهم او مشهور توکي په نښه کړو، د کومو توکو په وسیله چې افغانستان کولای شي د هغو په مټ ځان له اقتصادي پلوه له نړیوالو سره سیال کړي؛ لکه: کرنه او مالداري ،کانونه، صنعت او سوداګري، لاسي صنایع، توریزم/ګرځندویي او داسي نور.

**د کرنې سیکټور**

همداشان افغانستان یو زراعتی هېواد دی او د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ (۷۰٪) سلنه وګړي یې په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او (٦۱٪) سلنه یې د ژوند لومړنۍ اړتیاوې له کرنې څخه پوره کوي؛ نو کرنه د افغانستان د اقتصاد یوه غوښنه برخه جوړوي. دغه سیکټور د خلکو لپاره د (۴۰) سلنې کاري فرصتونو په برابرولو کې خپله فعاله ونډه اخیستې ده. دا په داسې حال کې ده، چې په کلیوالي سیمو کې د افغانانو له نیمایي څخه زیات نفوس د کرنې په سیکټور کې بوخت دی.

حکومت ته پکار ده، چې په دې برخه کې لازیاته توجه وکړي؛ ترڅو وکولای شي، چې هغه د اړتیا وړ توکي چې ضرورت دی خپله تولید کړي. له دې سره به یو د زراعتي محصولاتو د وارداتو مخه ونیول شي او بل به افغانستان د کرنې په سیکټور کې په ځان بسیا شي، لازیات کاري فرصتونه به را منځته شي او د کورنیو په اقتصادي پرمختګ کې به یې رغنده رول لوبولی وي.

**د مالدارۍ سیکټور**

په (۲۰۱۹)کال کې د افغانستان د کرنې او مالدارۍ وزارت له لوري په خپاره شوي راپور کې د افغانستان د مالدارۍ کلنی اقتصادي ارزښت لس ملیارده ډالره ښودل شوی وو، لکه څرنګه مو چې مخکې یادونه وکړه د افغانستان (۷۰٪) سلنه وکړي په کلیوالي سیمو کې ژوند کوي او په ټولیز ډول (۸۰٪) سلنه وګړي یې د خپل ژوند لومړنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره په کرنه او مالدارۍ کې بوخت دي. په هېواد کې د نورو سیکټورونو ترڅنګ د مالدارۍ سیکټور هم د خلکو په اقتصادي پیاوړتیا کې خپل مهم رول لوبوي او یو شمېر کلیوالي کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتیاوې د کورنیو حیواناتو په ځانګړي ډول له غواوو، وزو او مېږو څخه پوره کوي. د کرنې او مالدارۍ وزارت د راپور په اساس چې په (۲۰۱۹ م)کال کې یې خپور کړی دی د هېواد (۴۰٪) سلنه وګړي په مالدارۍ بوخت دي. په کار ده، چې د دې سیکټور د ودې په موخه هم لازم اقدامات ترسره شي؛ ترڅو افغانستان له دې پلوه پر ځان بسیا شي او په یو صادراتي هېواد بدل شي.

**د کانونو سیکټور**

د افغانستان د کانونو ټولیز ارزښت تر (۱ – ۳) ټریلیونه ډالرو پورې اټکل شوی دی، چې په دې کې د سرو زرو، لیتیم، مسو، اوسپنې، نایابه منرالونو، مرمرو او قیمتي ډبرو خورا لویې زېرمې شتون لري. د یادو کانونو کشف او استخراج دا ظرفیت لري، چې افغانستان د نړۍ دغني هېوادونو په قطار کې راولي.

**صنعت او سوداګري**

یو هېواد هغه وخت کولای شي، چې له اقتصادي پلوه ځان بسیاینې ته ورسېږي، چې له وارداتي او بهرنیو محصولاتو څخه ډېر په خپل کورني ظرفیت او د تولیداتي بنسټونو پر تقویت کار وکړي. صنعت او سوداګري د هېواد د اقتصادي ودې، ملي عوایدو لوړېدو، د کاري فرصتونو رامنځته کېدو، د صادراتو لوړېدو، د وارداتو کمېدو او د ژوند د کچې په ښه کېدو کې مهم او رغنده رول لوبوي. دولت باید د صنعت او سوداګرۍ په پیاوړتیا کې خپل رغنده رول و لوبوي، سوداګرو او کسبګرو ته لازمې آسانتیاوې رامنځته کړي او ټول هغه خنډونه، چې موجود دي له منځه یوسي او افغانستان په کورنیو تولیداتو متکي شي.

ادامه لري...


# اعلانات داوطلبی

**اعلان داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء) تهیه و تدارک (۲۲) عراده موترسایکل مورد نیاز گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه NCB/G/۱٤۰٥/MOF-Rebid-۱٥٦۷ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند. جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۰/ اسد/۱٤۰٥ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر میباشد. تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲۷/ اسد/۱٤۰٥ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد. آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ۱.۱.۱ شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦ و آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود.

**اعلان داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه تدارک فرش جای نماز برای مسجد شریف دومنزله تعمیر معینیت عواید و گمرکات دارای نمبر تشخیصیه ۱٤۰٥/MOF/۲٤٤۲-NCB/G که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند. تاریخ مشخص آفرگشایی: ۲٦/ اسد/۱٤۰٥ ساعت ۲:۰۰ قبل ازظهر آدرس : پشتونستان وات- وزارت مالیه – کابل افغانستان . منزل و شماره اطاق : منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آرفرگشایی . آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی،ریاست محترم عمومی اداره امور ۱.۱.۱ (https://tenders.ageops.af)، شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦. آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود

**اعلان داوطلبی**

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه تدارک فرش جای نماز برای مسجد شریف دومنزله تعمیر معینیت عواید و گمرکات دارای نمبر تشخیصیه ۲٤٤۲-NCB/G/۱٤۰٥/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند. تاریخ مشخص آفرگشایی: ۲٦/ اسد/۱٤۰٥ ساعت ۲:۰۰ قبل ازظهر آدرس : پشتونستان وات- وزارت مالیه –کابل افغانستان . منزل و شماره اطاق : منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آرفرگشایی . آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی ،ریاست محترم عمومی اداره امور ۱.۱.۱ (https://tenders.ageops.af)، شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦. آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود


د افغانستان اسلامي امارت
د ماليې وزارت
د اړيکو او عامه پوهاوي رياست

امارت اسلامی افغانستان
وزارت ماليه
رياست ارتباط و آگاهی عامه

## دهمين جدول زمانی پرداخت حقوق متقاعدين تثبيت شده

۱۷ اسد ۱۴۰۵هـ.ش

رياست عمومی حقوق تقاعد وزارت ماليه دهمين جدول زمانی پرداخت حقوق متقاعدين را اعلام مينمايد، که طبق جدول زمانی هذا به شکل نوبت وار از تاريخ (۱۰) اسد سال روان (۱۴۰۵) هـ.ش پروسه پرداخت حقوق متقاعدين دو اداره تثبيت شده ذيل طی مراحل ميگردد.

متقاعدين محترم ادارات ذيل قبل از مراجعه حضوری به رياست عمومی حقوق تقاعد نوبت خود را از طريق ويب‌سايت (www.pension.af) دريافت نموده و در زمان تعيين شده جهت طی مراحل حقوق تقاعد خويش مراجعه نمايند.

آن عده متقاعدين محترم که نام ادارات شان در ليست ذيل شامل نبوده لطف نموده به رياست عمومی تقاعد مراجعه نه فرمايند!

| شماره | نام اداره | تاريخ آغاز | تاريخ ختم |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | وزارت عدليه | ۱۴۰۵/۵/۱۰ | ۱۴۰۵/۷/۱۰ |
| ۲ | سمونملان وزارت داخله | ۱۴۰۵/۵/۱۰ | ۱۴۰۵/۷/۱۰ |

ليست اداره متباقی به نوبت خويش اعلان ميگردد.

## نشست اداری رياست عمومی گمرکات برگزار گرديد



هشتمين نشست اداری سال (۱۴۰۵) هـ.ش رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه تحت رهبری رئيس عمومی گمرکات الحاج محمد حامد احمد در مقام اين رياست برگزار گرديد. در اين نشست که معاون تخنيکی رياست عمومی گمرکات، رؤسا و شماری از آمرين اشتراک ورزيده بودند، در مورد حل مشکلات موجود ادارات مرکزی و ولايتی، رسيدگی به درخواست‌های شرکت‌های تجارتی و صنعتی و راهکارهای حل مشکلات موجود آنان در گمرکات، ايجاد تسهيلات بيشتر برای تاجران در گمرکات، ترتيب اسناد تقنينی جديد گمرکی طبق نيازمندی ها و موضوعات ديگر بحث صورت گرفته و تصاميم لازم اتخاذ گرديد. قابل يادآوری است که نشست‌های اداری رياست عمومی گمرکات به منظور بهبود هرچه بيشتر امور مربوطه به طور دوامدار برگزار ميگردد.

## د اداري معينيت د رهبرۍ ناسته کې پر مهمو موضوعاتو خبرې وشوې

د ماليې وزارت د اداري معين مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ، په (۱۴۴۸) هـ.ق کال کې د اداري معينيت د رهبرۍ لومړۍ ناسته د اړوندو رئيسانو په ګډون د دغه معينيت د غونډو په تالار کې وشوه. په دغه ناسته کې له اجنډا سره سم، د معينيت اړوندو رياستونو او خپلواکو آمريتونو د قانون/اکرنلاري د ترتيب، د وزارت د برېښنايي نظامونو (سيستمونو) د لا پراختيا، د امارتي املاکو د قراردادونو د پروسې د برېښنايي کولو، د بېرونيو ناستو مياشتني راپور د شريکولو، د اوسپني ويلې کولو شرکتونو د مقروضيتونو، د امارتي املاکو د جايدادونو د لنډ مهاله قراردادونو (د کرايو تثبيت) او ځينو نورو موضوعاتو په اړه بحثونه او لازمې پرېکړې وشوې. همداراز اړوندو رياستونو شته ستونزې او وړانديزونه هم شريک کړل، چې د رهبرۍ له لوري ورته د پر وخت رسېدو ډاډ ورکړل شو. د يادونې وړ ده، چې د ماليې وزارت اداري معينيت د رهبرۍ ناستې د



چارو د لا ښه والي او اغېزمنتوب په موخه ترسره کېږي، چې دغه لړۍ به په راتلونکي کې هم دوام ومومي.

## د دفاع وزارت د سرمفتشيت کارکوونکو لپاره داير شوی روزنيز پروګرام پای ته ورسېد

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رياست له لوري د دفاع وزارت د سرمفتشيت کارکوونکو لپاره د پلټنې په تړاو يو مياشتنی تخصصي روزنيز پروګرام په برياليتوب پای ته ورسېد. په همدې مناسبت د دفاع وزارت له لوري جوړه شوې غونډه د ماليې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رياست کفيل ښاغلي انجنير محمد شفيق حکمت، د خزاينو او ميزانيې پلټنې رئيس ښاغلي مولوي احمدالله حقاني او همداراز د دفاع وزارت سرمفتش ښاغلي مولوي لطيف الله حکيمي، د يادې اداري معاونينو، رئيسانو او علماوو په حضور کې ترسره شوه. د غونډې په ترڅ کې د ماليې وزارت د کورنۍ پلټنې لوی رياست د خزاينو او ميزانيې پلټنې رئيس، د دوامداره زده کړو، له دغو پروګرامونو څخه د ګټې اخيستنې او د پلټونکو د ديني او دنياوي مسؤليتونو په اړه خبرې وکړې. ورپسې د دفاع وزارت سرمفتش د ظرفيت لوړونې په برخه کې د ماليې وزارت له همکارۍ څخه مننه وکړه او د پلټنې، روڼتيا، حساب ورکونې او د پلټونکو د مسلکي مسؤليتونو د اهميت ترڅنګ يې د دا ډول پروګرامونو په دوامداره جوړېدو ټينګار وکړ. د غونډې په پای کې د کورنۍ پلټنې لوی رياست له لوري د ياد روزنيز پروګرام ګډونوالو ته تصديق ليکونه او د دفاع وزارت سرمفتشيت له لوري د ماليې وزارت روزونکو ته ستاينلکونه ورکړل شول.

## د ساتنې او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعې له تعليمي ټولۍ څخه ۵۰ تنه سرتېري فارغ شول

د ماليې وزارت د ساتنې او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعې له مرکزي او ولايتي امنيتي ټوليو او مفرزو څخه (۵۰) تنه سرتېري له (۴۵) ورځنيو عقيدوي او مسلکي زده کړو وروسته د يو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې فارغ شول. په دغو مراسمو کې د يادې قطعې اداري او مسلکي مرستيال مولوي نعيم الله «مصباح» د ښوونې او روزنې مدير مفتي عبدالرزاق «عبيده» د تعليمي ټولۍ قوماندان قاري عبدالحنان «سراجي» او ګڼ شمېر نورو مسئولينو او سرتېرو ګډون کړی وو. د قطعې اداري او مسلکي مرستيال په



خپلو خبرو کې وويل، چې کومه تجربه، پوهه او مهارتونه چې تاسې د دې روزنې پر مهال ترلاسه کړئ، يوازې تر خپلو ځانونو مه محدودوئ؛ بلکې د مفرزې نورو ساتونکو ته يې هم انتقال او ور زدکړئ؛ ترڅو هغوی هم ګټه ترې واخلي. ځوانو سرتېرو ته په ياده روزنيزه دوره کې د عقيدوي او مسلکي درسونو په برخه کې نبوي سيرت، اسلامي اخلاق، د امير اطاعت، نظامي نظم، پوځي تکتيکونه، د امنيت ساتنې تدابير، د لومړنيو طبي مرستو رسول او د پلټنې اصول تدريس شول، چې په دې سره به د ساتونکو په دندو او وظيفو کې د پام وړ مثبت بدلونونه راشي. فراغت غونډه د تصديق پاڼو په وېشلو سره پای ته ورسېده. د يادونې وړ ده، چې د ساتنې او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعې منسوبين د ماليې وزارت د بنسټونو او سوداګريزو توکو د ساتنې، د ربنو عوايدو راټولولو، د عوايدو تېښتې، قاچاق او ګمرکي سرغړونو د مخنيوي او نورو مهمو مسئوليتونو په غاړه لري.


### د ماليې وزارت د ګمرکونو عمومي رياست تل ستاسو په خدمت کې دی!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومې ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

### رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه هميشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱



### د شکايتونو اورېدلو آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چې د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای شي، چې د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له آمريت سره يې په حضوري بڼه او يا د لاندې ادرسونو له لارې شريک کړي.
ټيليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af